گل احمد تیمار

هلنډ د 2009 فبروري 22

# راخئ چه سره یو شو

ګرانودردیدلو اوځوریدلو هیوادوالو، زمونږ د وران وجاړ هیواد روڼ اندو، سیاست پوهانو، علماو روحانیونو، ملی شخصیتونو، کارګرانواوکسب ګرو ۰ السلام علیکم.

**غواړم ستاسو پاملرنه د افغانستان په دی حساسو تاریخی او سر نوشت ټاکونکو شیبو کی یو څولندوټکو ته راوګرځوم.**

**هیواد والو! لکه څنګه چه تا سوته جوته ده مونږ تول یوځل بیا دجمهوری ریاست د ټولټاکنو ددوهمی دوری په در شل کی یوه اوهم مو دلومړی دوري دجمهوری ریاست دمقام او دهغی د منتخب دولت ددروګونو قواوو دکار محصول ولید خوپوښتنه داده چه.**

**1- څومره زمونږ دمظلوم ولس په ژوند کی مثبت بدلون راغلی؟**

**2- څومره زمونږ ملی اقتصاد پیاوړی شوی؟آیا حد أقل د ملی إقتصاد دپیاوړی کیدولپاره اساسی بنیادونه ایښودل شوی؟**

**3- څومره زمونږ د مختلفوقومونو اوملیتونوتر منځ اړیکی ټنګي شوی،آیا دزړه له کومی د ملی یووالی څرک لیدل کیږی؟**

**4- آیا ددولتی تولیدی دستګاو د آزاد بازار اقتصاد ته دلاری د پرانستلوپخاطر خرڅی شوی او که اقتصادی ما فیاته د خدمت کولوپه خاطر؟**

**5- آیا موجوده د آزاد بازار اقتصادی سیستم اوموجوده دموکراسی له پردیو هیوادونو کاپی شوی او زمونږ هیواد ته راوړل شوی، که زمونږ ټولنه په تدریجی توګه ددی محصول ده؟**

**6- آیا د بین المللی ټولنې د ملیاردو ډالرو مالی مرستی په معقول لارو په کار أچول شوی؟اوکه دسیاسی تاجرو جیبونه ډک شوی اوهم زیاته اندازه ای دهیواد څخه بهرته په پټو دروازو وتلی؟**

**محترمودوستانو!دغه پورتنیو اوداسی نوروپوښتنوته هر افغان وګړی ځواب ویلی شی. داځکه چه هر څه په دی مظلوم ولس تیر شوی اوتیریږی د لمر په شان هر چاته جوت او ښکاره دی.خوخبره داده چه دا مظلوم ولس یو ځل بیا دخپل دولتی مشر ټابه یا د خپل راتلوونکي برخلیک دټاکلو په در شل کی دی۰ ولسمشری ته دنوم اند کیدو بازار هم ډیر ګرم شوی، نو آیا دغه مظلوم ولس ته به ددی موقع په لاس ور کړی شی چه خپل برخلیک د ټاکلو لپاره د خپلی خوښی کاندید وټاکی اوکه زور واکانو به بیا هم په دوی خپل حاکمیت په زور تحمیل کړی؟**

**دهیواد روڼ اندو،ملی شخصیتونو ،علماءو،دګوندونو اواجتماعی سازمانونوغړو! راځئ خپل ایمانی ،اسلامی اووطنی مسئولیت ادا کړو ددغه مسئولیت په ادا کولو د خپل مظلوم ولس سره دخپلی خوښی کاندید په ټاکلوکی مرسته وکړو اوپرینږدو چه زور واکان دخپل زور څخه په ګټه اخستو سره یوځل بیا ور باندی خپل حا کمیت ټینګ کړی.داکار هغه**

وقت کیدای شی چه د هیواد وطنپال روڼ اندي، ملی شخصیتونو، وطنپال روحانیون اوقومی مشران په متحد ډول د وطن اوخلکو د ملی لوړو آرمانونو دسرته رسولو په هکله سره تعهد وکړی.

لومړی زمونږ دخلکوعامه ذهنیتونه دخپل ملی زعامت دټاکلوپه هکله روښانه او ددغه تر څنگ په ملی کچه سیاسی، اقتصادی اوامنیتی چاروپوه ، ملی یو والی اوښایسته سالاری ته وفادار، داسی یو ملی او وطندوست شخصیت د کاندید په توگه ورته وروپيژنی تر څو دوی وکولای شی د جمهوری ریاست په راتلونکو ټولټاکنو کی خپل د خوښی کاندید ته رأئی ور کړی چی واقعا"د ولس خادم وي او دا مظلوم ولس نور خپل ځانونه د بی امنیو، بیکاری او وژلو څخه خلاص او د رنگا رنگه ظلمونو، زور ځواکیو او په قومی ژبنی روابطو د ولسونو د ویشلو د خطر مخه ونیول شی.

بله مهمه خبره داده چی زمونږ اوستاسو دټولوگډ مسئولیت دی چه پر نړیواله ټولنه د خپلو موجوده امکاناتو نه په گټه اخستو فشار راوړل شی تر څو په ټاکنوکی کی د زور واکانو اود قدرت د اوسنیو خاوندانو د زور څخه د استفاده کولو جدی مخه ونیسی ، اوخلکوته ددی موقع ور کړای شی تر څوخپل د خوښی کاندید ته په آزاد ډول رأئی ورکړی، اوهم باید نړیواله ټولنه دي ټکی ته جدی پاملرنه وکړی چه د ټولټاکنو د کمیسیون استقلالیت او مشروعیت د هر افغان تر پو ښتنی لاندی دی. نوڅکه هم ضرور ده چی نړیواله ټولنه د عادلانه ټولټاکنو دسر ته رسیدوپه خاطر د ټولټاکنو پوری اړوند ټول حاکم نهادونه تر کلکی څارنې لاندی ونیسی.

تر څو چی افغانان هم د نورو نړیوالو په څیر خپل برخلیک خپله وټاکی او پدغه رنو ټاکنو کی د نړیولو او افغانانو شریکې گټې نغښتې دي ۰

دټولو هیوادوالود یووالی اوکامیابی په هیله.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de